


قرآني بيان

# ستا پهٔ نُوراني مخ مې دې قَسم وي!

**29-August-2025**

د مَدَني مرکزونو (فيضانِ مدينه) او د شعبه امام مساجد (دعوتِ اسلامي)

لاندې جوماتونو د پاره

د جُمعةُ المبارک

(For Islamic Brothers)

د مَدَني مرکزونو (فيضانِ مدينه) او د شعبه اِمام مساجد (دعوتِ اِسلامي) لاندې جوماتونو د پاره

پۀ 29 اګست، کال 2025ء (متوقع اِسلامي تاريخ: 4 ربيع الاول، کال 1447ھ) د جُمعَةُ الـمبارک

قرآني بيان

پۀ نوم

# ستا پۀ نُوراني مخ مې دې قَسم وي!

پـه دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- د سُورۀ والضُّحٰی پۀ خوب کښې د ليدلو تعبير
- د سُورۀ والضُّحٰی شانِ نزول
- د عفو او کرم يو څو مثالونه
- اِيمان يـې پۀ زړۀ کښې کور وکړو

پیشکش

اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ ؕ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖن ؕ

اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ ؕ بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ؕ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیۡكَ یَا رَسُوۡلَ الله وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصۡحٰبِكَ یَا حَبِیۡبَ الله

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیۡكَ یَا نَبِیَّ الله وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصۡحٰبِكَ یَا نُوۡرَ الله

نَوَیۡتُ سُنَّتَ الۡاِعۡتِکَاف (ترجمه: ما د سُنَّت اعتكاف نِيَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

شفاعت كوونكي آقا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوک چې پهٔ ما باندې سحر او ماښام 10، 10 کرته دُرُودِ پاک لولي، د هغهٔ به د قيامت پهٔ ورځ زما شفاعت نصيب کيږي۔ (1)

ہمیں جائیں گے خُلد میں سب سے پہلے | نبی کے ہیں ہم اور جنت نبی کی
بنائے گئے ہم شفاعت کی خاطر | ہمارے لیے ہے شفاعت نبی کی (2)

صَلُّوا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

قَالَ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰی فِی الۡقُرۡاٰنِ الۡكَرِیۡم (الله پاک پهٔ قرآنِ كريم كښې فرمائي):

وَالضُّحٰی ۙ﴿۱﴾ وَالَّیۡلِ اِذَا سَجٰی ۙ﴿۲﴾ (پاره:30، سورۃ الضحیٰ: 1,2)

صَدَقَ اللهُ الۡعَظِیۡم وَصَدَقَ رَسُوۡلُهُ النَّبِیُّ الۡكَرِیۡم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د سورهٔ وَالضُّحٰی تعارُف او فضائل

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! مونږ د 30 سیپارې، د سورهٔ وَالضُّحٰی د وړومبو دوو آيتونو د اوريدو سعادت حاصل کړو، سورهٔ وَالضُّحٰی مکي سُورت دے یعنې دا مبارک سورت د

---

1 ... الترغيب والترهيب، كتاب نوافل،الترغيب فی آيات و اذكار...الخ، صفحہ:223، حديث:29۔
2... قبالۂ بخشش، صفحہ:313۔

هجرت نه مخکښې پهٔ مکه مکرمه کښې نازل شوے، پهٔ دې کښې صرف يوه رکوع، 11 آيتونه، 40 لفظونه او 172 حرفونه دي- (1)

د سورۂ وَالضُّحٰی يو خاصيت دا دے چې پهٔ دې ټول سورت کښې زمونږه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نعت شريف دے ✿ پهٔ دې مبارک سُورت کښې د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د رخُسار مبارک ذِکر دے ✿ د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د زلفو مبارکو ذِکر دے ✿ پهٔ دې کښې د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د محبوبيت ذِکر دے ✿ د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د شفاعت ذِکر دے ✿ د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د صفتونو او کمالونو ذِکر دے ✿ پهٔ دې سُورت مبارک کښې د دې خبرې ذِکر هم دے چې

خُدا کی رضا چاہتے ہیں دو عالَم | خُدا چاہتا ہے رضائے مُحَمَّد (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) (2)

✿ او يوه زمونږ د غريبانانو د فائدې خبره عرض کووم، پهٔ دې سُورت مبارک پهٔ اخره کښې رَبِّ کائنات خپل محبوبِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته اِرشاد فرمائيلے دے:

وَ اَمَّا السَّآئِلَ فَلَا تَنۡهَرۡ ﴿۱۰﴾
(پاره:30، سورۂ الضحٰی:10)

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او پهٔ هيڅ صورت هُم سوالګير مهٔ رټه-

سُبْحٰنَ الله! خومره ښکلې خبره ده، عاشقِ ماهِ رسالت، اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې آيت طرف ته اِشاره کړې ده او ليکلي يې دي:

مؤمن ہوں مؤمنوں پہ رؤوف و رحیم ہو | سائل ہوں سائلوں کو خوشی لانہر کی ہے (3)

**وضاحت:** يعني اے زما خوږه آقا، اے رسولِ خُدا! اے د دواړو جهانو سلطانه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! زهٔ ډير فخر کووم، پهٔ کومه خبره باندې؟ پهٔ دې باندې چې زهٔ مؤمِن يم او رَبِّ کريم فرمائي

---

1... تفسير خزائن العرفان، پاره:30، سورة الضحى، صفحه:1107-
2... حدائق بخشش، صفحه:65-
3... حدائق بخشش، صفحه:212-

چې تاسو صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ مؤمِنانو باندې ډېر مهربانه او رحم کولو والا يې- پهٔ يوه بله خبره باندې زهٔ فخر کووم، هغه دا چې زهٔ ستاسو د پاک دَر سوالګير يم او څوک چې ستاسو د دَر سوالګير وي، هغه پهٔ دې خبره خوشحاله وي چې ستاسو رَبِّ رحمان تاسو ته حکم کړے دے چې اے خوږه محبوبه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! چې سوالګيرے راشي نو هغه مهٔ رټه، هغه خالي لاسونه مهٔ ليږه بلکې چې کوم سوالګيرے راشي، د هغه جولۍ ډکه کړه او اوئې ليږه-

مرادیں مِل رہی ہیں شاد شاد اُن کا سُوالی ہے
لبوں پر التجا ہے ہاتھ میں روضہ کی جالی ہے
بشر ہو یا مَلک جو ہے ترے دَر کا سُوالی ہے
تری سرکار والا ہے ترا دربار عالی ہے
فقیرو! بے نواؤ! اپنی اپنی جھولیاں بھر لو
کہ باڑا بٹ رہا ہے فیض پر سرکارِ عالی ہے
نکالا کب کسی کو بزمِ فیضِ عام سے تُو نے
نکالی ہے تو آنے والوں کی حسرت نِکالی ہے
وہی والی، وہی آقا، وہی وارِث، وہی مولیٰ
میں ان کے صدقے جاؤں اور میرا کون والی ہے([1])

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د سورهٔ وَالضُّحٰی پهٔ خوب کښې د ليدلو تعبير

سُبْحٰنَ الله! معلومه شوه چې پهٔ دې مبارک سُورت کښې د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د سخاوت بيان هم دے بلکې که د اِرشاداتو پهٔ لحاظ سره وکتے شي نو دا **سُورت مبارک د سخاوت علامت دے-** ❀ د تعبير د عِلم ډېر لوئې اِمام، اِمام اِبنِ سيرين رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ ليکلي دي:

---

1... ذوقِ نعت، صفحه:230-231 -233 ملتقطًا-

کوم بنده چې پهٔ خوب کښې ووينې چې هغه د سورۂ والضُّحٰی تلاوت کوي نو دا د دې خبرې دليل دے چې هٔغه بنده به سخي شي او سوالګيرو له به خيرات ورکوي ❁ اِمامِ جعفر صادِق رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَيۡہ فرمائي: کوم بنده چې پهٔ خوب کښې سورۂ والضُّحٰی ولولي، دا د دې خبرې دليل دے چې د هغهٔ به د غريبانانو سره محبت وي- (1)

ترے جود و کرم کا کوئی اندازہ کرے کیونکر
ترا اِک اِک گدا فیض و سخاوت میں ہے حاتِم سا (2)

**وضاحت:** حاتِم د عربو يو کَس وو، د هغه سخاوت ډير مشهور دے، مولانا حسن رضا خان صاحب رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَيۡہ عرض کوي: يا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَيۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! ستاسو د سخاوت، ستاسو د عطاګانو څوک اندازه څنګ لګولے شي، څوک چې ستاسو د در سوالګيري دي، هغوئي هم د حاتِم پهٔ شان بلکې د هغه نه هم زيات سخيان وي، چې د در مبارک د سوالګيرو د سخاوت دا حالت دے نو پخپله به د سرکارِ اعظم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَيۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سخاوت څنګه وي---!!

## د يو بل نه د بے درکه شوو ميلاوهلو والا سُورت

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** سورۂ والضُّحٰی د شروع نه تر اخره پورې ټول د نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَيۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نعت دے او مونږ ته معلومه ده چې رسولِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللّٰہُ عَلَيۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هٔغه عظيم شان والا دے ❁ چاچې د رَبّ د بندګانو د رَبّ سره د ميلاوهلو د پاره تشريف راوړے دے ❁ د بے درکه شوو بے لارې شوو پهٔ نيغه لار د روانولو د پاره تشريف راوړے دے ❁ پهٔ زړونو کښې د الله پاک د ياد ځائے کولو د پاره تشريف راوړے دے، دا سورۂ والضُّحٰی کوم چې ټول د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَيۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نعت دے، الله پاک پهٔ دې سُورت کښې هم دا اثر ايښودے دے چې دا بے درکه شوي ميلاوهي- آؤ جي! اِمام

---

1... معجم تفسير الاحلام، حرف السين، سورة الضحى، صفحه:602۔
2... ذوقِ نعت، صفحه:78۔

محمد بن محمد غزالي رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ ليکلي دي: که يو څيز ورک شي يا يو څيز ضائع شي نو بنده دې سورهٔ والضُّحٰی لولي، د هغهٔ ورک شوے څيز به ورته ميلاؤ شي۔

يو ځل د اميرُ المُؤمِنِين حضرت عمر بن عبد العزيز رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ نه يو غلام چرته وتښتيدو او واپس رانغلو، هغوئي خپل يو ګورنر ته خط وليکو او اوئې فرمائيل: زما غلام د دلته نه تښتيدلے دے او ستا د علاقې طرف ته درغلے دے، هغه زر ولېږه!

د اَميرُ المُؤمِنِين حڪم وو، هُغه ګورنر ډير پريشانه شو، هغه غلام ډير ولټولو خو راپيدا يې نهٔ کړو، د دې پريشانئ پهٔ حالت کښې چا مشوره ورکړه چې تهٔ د سورهٔ والضُّحٰی او سورهٔ اَلَم نَشرَح وظيفه کوه! تښتيدلے غلام به دې پخپله واپس راشي، نو هغه د سورهٔ والضُّحٰی او سورهٔ اَلَم نَشرَح تِلاوت وکړو نو هُغه وخت هُغه تښتيدلے غلام هغهٔ ته ميلاؤ شو۔ [(1)]

سُبۡحٰنَ الله! معلومه شوه چې دا مبارک سُورت بے درکه شوي ميلاوهلو والا دے۔ لهذاچې کله درنه څهٔ څيز ورک شي، څوک خپل خپلوان چرته لاړ شي، بے درکه شي، نهٔ ميلاؤيږي نو د سورهٔ والضُّحٰی تلاوت کوئ! اِنۡ شَآءَاللهُ الۡکَرِیۡم! بے درکه شوے به ميلاؤ شي۔

## د غفلت نه د بچ کيدو يوه وظيفه

الله پاک دې مونږ ته د دې مبارک سُورت بلکې د ټول قرآنِ کريم پهٔ کثرت سره د تِلاوت کولو توفيق راعطا کړي۔ پهٔ **حديثِ پاک** کښې دي، رسولِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: کوم بنده چې د شپې د قرآن د 10 آيتونو تلاوت وکړي، د هغه نوم به د غافلانو پهٔ لِسټ کښې نهٔ ليکلے کيږي۔ [(2)] اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہ! د سورهٔ وَالضُّحٰی 10 نهٔ بلکې 11 آيتونه دي، ځکه که مونږه روزانه د شپې د اوده کيدو نه مخکښې د سورهٔ وَالضُّحٰی تلاوت کوو نو اِنۡ شَآءَاللهُ الۡکَرِیۡم! پهٔ غافلانو کښې به نهٔ شميرلے کيږو۔ الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي۔ اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّين صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم۔

---

1... خواص القرآن للغزالی، صفحہ:92 ملتقطًا۔
2... مستدرک، کتاب فضائل القرآن، باب من قراء عشر...الخ، جلد:2، صفحہ:257، حديث:2084۔

تلاوت کی توفیق دیدے الٰہی | گناہوں کی ہو دور دل سے سیاہی

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د سورۀ وَالضُّحٰی شانِ نزول

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د سورۀ وَالضُّحٰی شانِ نزول څهٔ داسې دے چې زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چې کله د نبوت اعلان وفرمائیلو نو د هغې نه څهٔ موده پس وحي راتلل ودریدل، دې ته زمانهٔ فَترتِ وحي (یعنې د وحي ودریدو موده) وئیلے شي- دا څومره موده وه، پهٔ دې باره کښې مختلف روایتونه دي، پهٔ بعضې روایتونو کښې د 12 ورځو ذِکر دے، پهٔ بعضو کښې د 15 ورځو، پهٔ بعضې روایتونو کښې د 25 ورځو او پهٔ بعضې روایتونو کښې د 40 ورځو ذِکر دے- بهر حال! چې کله وحي راتلل بند شو نو غیر مسلمو زمونږه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ګستاخیاني شروع کړې ❀ چا به وئیل چې د مُحَمَّد صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم رَبّ هغوئي پرېښودي دي ❀ چا به وئیل چې د مُحَمَّد صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم رَبّ د هغوئي نه ناراضه دے [1] او ❀ اُمِّ جمیل یعنې د ابو لـهب ښځه کومه چې ګستاخِ رسول وه، هغې خو پهٔ دې موقع باندې د نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د پاره ډیر د سپکاوي الفاظ استعمال کړل، پهٔ دې باندې د محبوبِ رحمان، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زړهٔ مبارک ته ډیر خفګان ورسیدو،نودا مبارک سُورت نازل شو، [2] الله پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَ الضُّحٰى ﴿۱﴾ وَ الَّیْلِ اِذَا سَجٰى ﴿۲﴾ مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَ مَا قَلٰى ﴿۳﴾ | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: د څاښت د وخت قَسم- او د شپې چې کله پرده خوره کړي- ستا رَب تهٔ نهٔ پرېښودے یې او نهٔ یې ناخوښه کړے یې- |

1... تفسیر قرطبی، پارہ:30، سورۃ الضحی، زیر آیت:1، جز:20، جلد:10، صفحہ:56 بتغیر قلیل۔
2... بخاری، کتاب فضائل القرآن، باب کیف نزول الوحی واول ما نزل، صفحہ:1290، حدیث:4983۔

پهٔ دې کښې الله پاک خپل خوږ محبوب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم له تسلي ورکړه چې اے خوږه محبوبه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! د دې کافرانو پهٔ خبرو باندې خپل زړهٔ مهٔ خفه کوئ! ستاسو رَبّ نهٔ خو تاسو پريښودي يئ او نهٔ ستاسو نه ناراضه دے۔

محبوب څوک چرته پريږدي؟ ❁ ستاسو رَبّ کوم چې تاسو د دواړو جهانو محبوب جوړ کړي يئ ❁ کوم چې پهٔ زړونو کښې ستاسو محبت داسې راځائے کړے دے چې ستاسو غلامان ستاسو پهٔ نوم باندې خپل سر د تن نه جُدا کول فخر ګڼي ❁ ستاسو رَبّ کوم چې پهٔ کاڼو باندې تاسو ته سلامونه وکړل ❁ پهٔ ونو باندې يې ستاسو کلمې ولوستلې ❁ پهٔ څناورو باندې يې تاسو ته سجدې وکړې ❁ غرونه يې ستاسو د محبت نه ډک کړل ❁ ستاسو رَبّ کوم چې ستاسو پهٔ خاطِر دواړه جهانونه پيدا کړل ❁ پهٔ زرګونو کاله مخکښې يې پهٔ عرش باندې د خپل نوم سره ستاسو نوم وليکلو ❁ د جنَّت پهٔ پاڼه پاڼه باندې يې ستاسو نوم وليکلو، آيا ستاسو هٰغه رَبِّ رحمان او رحيم به ستاسو نه ناراضه کيږي؟ هغه به تاسو پريږدي؟ نا--!! نا، اے محبوبه! تاسو هٰغه هستي نهٔ يئ چې څوک درنه ناراضه شي، تاسو هغهٔ نهٔ يئ چې پريښودلے شئ ، تاسو خو هغهٔ يئ د چا رضا چې رَبِّ کائنات غواړي، تاسو خو هغه يئ د چا پهٔ برکت چې د رَبِّ کريم د بارګاه نه شړلے شوي مقبول جوړيږي۔

مولانا حسن رضا خان صاحب رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه څهٔ ښکلي وئيلي دي:

| | |
|---|---|
| عجب پیاری پیاری ہے صُورت کسی کی | ہمیں کیا خُدا کو ہے اُلفت کسی کی |
| کسی کو کسی سے ہوئی ہے نہ ہو گی | خُدا کو ہے جتنی محبّت کسی کی |
| رَفَعۡنَا لَکَ ذِکۡرَکَ پر تصدق | سب اونچوں سے اونچی ہے رِفعت کسی کی |
| فَتَرۡضٰی نے ڈالی ہیں باہیں گلے میں | کہ ہو جائے راضِی طبیعت کسی کی[1] |

صَلُّوا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

[1]… ذوقِ نعت، صفحه:237234 ملتقطًا۔

## د وَالضُّحٰی او وَالَّیل معنیٰ

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! اللّٰه پاک فرمائي:

وَالضُّحٰی ۙ﴿۱﴾ وَالَّیۡلِ اِذَا سَجٰی ۙ﴿۲﴾ | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: د څاښت د وخت قَسم- او د شپې چې کله پرده خوره کړي-

دا 2 قَسمونه دي: (1): یو د ضُحٰی قَسم او (2): دویم د لَیل قَسم- د لَیل معنیٰ ده شپه او د ضحیٰ مطلب دے : د څاښت وخت- چې کله نمر راوخیژي او لږ رااوچت شي، د دۀ رڼا پۀ زمکه باندې خوره شي، دغه وخت ته ضحٰی یعنې د څاښت وخت وئیلے شي-[1]

## د څاښت د نـمونځ فضائل

د دې وخت ډیر زیات فضیلت دے، پۀ **حدیثِ پاک** کښې دي: پۀ انسان باندې د هغۀ د هر جوړ پۀ بدله کښې **صدقه** ده (او ټول 360 جوړونه دي) ✿ هره تسبیح **صدقه** ده ✿ هر حمد صدقه ده ✿ لَآاِلٰهَ اِلَّا اللّٰه وئیل **صدقه** ده ✿ اَللّٰهُ اَکۡبَر وئیل **صدقه** ده ✿ د نېې خبرې حُکم کول **صدقه** ده ✿ د بدې خبرې نه منع کول **صدقه** ده او د دې ټولو د طرف نه د څاښت د نـمونځ 2 رکعتونه کفایت کوي-[2] پۀ یو **حدیث شریف** کښې دي: چا چې د څاښت 12 رکعتونه وکړل، اللّٰه پاک به د هغه د پاره پۀ جنَّت کښې د سرو زرو محل جوړ کړي-[3]

وہ تو نہایت سستا سودا بیچ رہے ہیں جنّت کا
ہم مفلس کیا مول چکائیں، اپنا ہاتھ ہی خالی ہے[4]

سُبۡحٰنَ اللّٰه! د دې نه معلومه شوه چې د څاښت وخت ډیر د فضیلت والا دے او اللّٰه پاک د خپل محبوب کریم صَلَّی اللّٰهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د شان بیانولو نه مخکښې د هٰغه وخت قَسم هم اِرشاد فرمائیلے دے- ځکه مونږ له پکار دي چې پۀ دې وخت کښې نـمونځ کوو، د څاښت

---

1... تفسیر کبیر ، پاره:30، سورة الضحی، زیر آیت:1، جلد:11، صفحه:190-
2 ... مسلم، کتاب صلاة المسافرین وقصرها، باب استحباب صلاة الضحی...الخ، صفحه:262، حدیث:720-
3... ترمذی، ابواب الوتر، باب ما جاء فی صلاة الضحی، صفحه:141، حدیث:473-
4 ... حدائق بخشش، صفحه:186-

نفلونه ادا کوو- اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ الۡكَرِيۡم! ډېر برکتونه به مو نصيب شي-

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** اللّٰه پاک د سورهٔ وَالضُّحٰى پهٔ شروع کښې 2 قَسمونه اِرشاد کړے شو: (1): يو د ضُحىٰ قَسم (2): بل د لَيل قَسم- دلته د دې دوو قَسمونو نه څهٔ مُراد دي؟ مفسرينِ کرامو د دې ډېرې معنې بيان کړې دي- زهٔ ستاسو پهٔ مخکښې صرف درې معنې پيش کووم:

## (1): د حق د واضِحه کيدو وخت او د مِعراج شپه

مفسرينِ کرام فرمائي: حضرت موسىٰ عَلَيْهِ السَّلَام چې د فرعون د جادوګرو سره کومه مقابله کړې وه او حق يـې د روښانه ورځې پهٔ شان واضحه کړے وو، دا مقابله د څاښت پهٔ وخت کښې شوې وه، پهٔ دې ځائے کښې يعنې پهٔ وَالضُّحٰى کښې هٔغه د څاښت وخت مُراد دے [(1)] او د وَالَّيل نه مُراد د معراج شپه ده- [(2)]

اوس به مطلب دا جوړيږي چې اے محبوبِ کريمه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! حضرت موسىٰ عَلَيْهِ السَّلَام چې کوم وخت حق واضحه کړے وو، د فرعون پهٔ شان لوئي کافِر ته يـې شکست ورکړے وو، د هٔغه کافِر د غرور نه ډک سَر د حضرت موسىٰ عَلَيْهِ السَّلَام د معجزې پهٔ ليدو ښکته شوے وو، هغه د ډېر ذِلت د شکست سره مخ شوے وو، اے محبوبه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! پهٔ هٔغه وخت مې دې قَسم وي! ستاسو رَبّ نهٔ تاسو پريښودي يې، نهٔ ستاسو نه ناراضه شوے دے-

دغه شان اے محبوبه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! ډېره زر يوه شپه راتلونکې ده ❁ کله چې به عالَمِ بالا ښائسته کولے شي ❁ پهٔ اسمانونو کښې به ستاسو ذِکر وي ❁ خوشحالي به وي ❁ جبريلِ امين عَلَيْهِ السَّلَام به ستاسو خوا له درځي ❁ بُراق به درليږلے شي ❁ ستاسو نه به ناوک [د واده څلمے] جوړولے شي ❁ پهٔ مسجدِ اقصىٰ کښې به ورومبے پهٔ نبيانو باندې تاسو ته هر کلے وئيلے شي ❁ تاسو به اِمامُ الانبياء جوړولے شي او ❁ هٔغه رَبِّ کريم کوم

---

1... تفسير کبير ، پاره:30، سورة الضحى، زير آيت:1، جلد:11، صفحه:191 خلاصةً۔
2... تفسير قرطبى، پاره:30، سورة الضحى، زير آيت:1، جز:20، جلد:10، صفحه:55 ۔

چې غَيبُ الغيب دے، د ټولو نه زيات غيب دے، د کوم د ديدار ارمان چې حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام کړے وو نو لَنْ تَرٰانِیْ (اے موسیٰ! تاسو ما نۀ شئ ليدلے) فرمائيلے شوي وو، هٰغه رَبِّ کريم به د خپل حُسنِ ازل نه پردې اوچتوي، پۀ تاسو باندې به عين د بيدارئ پۀ حالت کښې د سَر پۀ سترګو ديدار کولے شي، اے محبوبه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! پۀ هٰغه مبارکه شپه مې دِ قَسم وي! ستاسو رَبّ نۀ تاسو پريښودې يئ او نۀ درنه هغه ناراضه شوے دے۔

| | |
|---|---|
| تُو نائِبِ خُدا ہے، محبوبِ کبریا ہے | ہے مُلک میں خُدا کے جاری نظام تیرا |
| چوتھے فلک پہ عیسیٰ اور طُور پر تھے موسیٰ | کرسی و عرش سے بالا مقام تیرا |
| تُو پیشوا ہے سب کا، سب مقتدی ہیں تیرے | اَقصیٰ میں کیسے بنْتا کوئی امام تیرا |
| دشمن گھٹائیں جتنی عزت بڑھے گی اتنی | منظور ہے خُدا کو احترام تیرا |

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## (2): د علمِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم او د معاف کولو عادت مبارک

بعضې مفسرينِ کرامو فرمائيلي دي چې د وَالضُّحٰی نه د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نُور او د وَالَّيل نه د هغوئي عفو او درګزر مُراد دي۔ (1)

اوس به مطلب دا جوړيږي چې اے محبوبه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! ❁ ستاسو هٰغه مبارک عِلم کوم چې ستاسو پۀ سينه کښې ايښودے شوے دے ❁ د قرآنِ کريم عِلم ❁ د الله پاک د معرفت عِلم ❁ د الله پاک د ذات او د صفاتو عِلم ❁ د پټو رازونو عِلم ❁ تر قيامته پورې د کيدونکو واقعاتو عِلم ❁ مَاكَانَ وَمَايَكُوْنُ (يعني چې څۀ شوي دي، څۀ به کيږي، د هغې) عِلم ❁ هٰغه عِلم د کوم پۀ نُور باندې چې به دُنيا روښانه کيږي ❁ هٰغه مقدس عِلم د کوم سره چې به د جهالتونو تيارې لرې کيږي ❁ هٰغه بے مثله عِلم د کوم پۀ برکت چې به د جهالت پۀ تيارو کښې ډوب شوي خلق رڼا بياموي او تر قيامته پورې د راتلونکو به اِمامان او پيشوا ګان جوړيږي ❁ اے محبوبه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! ستاسو د هٰغه عِلم د رڼا

1... تفسير کبير ، پاره:30، سورة الضحیٰ، زير آيت:1، جلد:11، صفحه:192۔

قَسم! ستاسو رَبّ نهٔ تاسو پرېښودي يې او نهٔ ستاسو نه ناراضه شوے دے-

دغه شان چې کله شپه شي نو هر څيز پټ کړي ❁ اے محبوبه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! ستاسو هٰغه د معاف کولو والا عادت کوم چې د مجرمانو جرمونه پاکوي ❁ ستاسو د رحمت هٰغه ادا چې د سر نه تر ښپو پورې پهٔ تيارو کښې ډوب شوي راشي، تاسو هغوئي خپله د رحمت جولۍ کښې اخلئ او د هغوئي ټول ګناهونه پټوئ ❁ اے خوږه محبوبه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! ستاسو چې زما د بندګانو سره دا کوم محبت دے ❁ تاسو چې د هغوئي سره کوم د رحمت نه ډک سلوک کوئ ❁ ستاسو د رحمت او کرم پهٔ هٰغه شان مې دې قَسم وي چې ستاسو رَبّ نهٔ تاسو پرېښودي يې او نهٔ ستاسو نه ناراضه شوے دے-

**اَللّٰهُ اَكْبَرُ! اے د خوږ نبي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** دلته غور وکړئ! زمونږه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عفو او کرم څومره ځانګړے شان دے چې د هغوئي رَبِّ کريم د هغوئي د رحمت او د شفقت د ادا قَسم اِرشاد فرمائي-

وسعتیں دِی ہیں خُدا نے دامنِ محبوب کو | جرم کھلتے جائیں گے اور وہ چھپاتے جائیں گے[(1)]

د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ورور مولانا حسن رضا خان صاحب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکلي دي:

میں ہوں، میں ہوں اپنی اُمّت کے لئے | کیا ہی پیارا پیارا یہ ارشاد ہے
وہ شفاعت کو چلے ہیں پیشِ حق | عاصیو! تم کو مبارکباد ہے
جس کو اس در کی غلامی مل گئی | وہ غمِ کونین سے آزاد ہے
کون سے دِل میں نہیں یادِ حبیب | قلبِ مؤمن مصطفٰے آباد ہے[(2)]

## د عفو او کرم يو څو مثالونه

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** زمونږه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د معاف کولو والا د عادت مبارک به درته څهٔ وايم--!! ❁ نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دوارو

1... حدائق بخشش، صفحہ:156۔
2... ذوقِ نعت، صفحہ:223 ملتقطًا۔

جهانو د پاره رحمت راغلے دے ❁ د هغوئي پهٔ طبيعت مبارک باندې به هميشه د رحمت، نرمئ او عفو او کرم غلبه وه ❁ غور وکړئ چې د طائِف هغه سفر، هُغه دردناک سفر چې سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چې د طائِف د خلقو د دوزخ نه د بچ کولو او د جنَّت د حقدار جوړولو پهٔ خاطِر د نيکئ دعوت ورکولو د پاره تشريف وړے وو، هم هُغه خلقو نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مَعَاذَ الله! پهٔ کاڼو وويشتو، وجود مبارک يې ورله زخمي کړو، د دې باوجود چې کله د غرونو فرښته حاضره شوه او عرض يې وکړو چې يا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! که حکم وي نو دواړه غرونه به د يو بَل سره يو ځائے کړم او دوئي به فنا کړم؟ اوئې فرمائيل: نا--!! زهٔ نهٔ غواړم چې دا هلاک شي [1] ❁ دغه شان د غزوهٔ حنين پهٔ موقع باندې د نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ خدمت کښې عرض وکړے شو: يا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! دوئي ته ښيرې وکړئ! رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم داسې دُعا وکړه: اَللّٰهُمَّ اهْدِ ثَقِيفًا[2] اے الله پاکه! ثقيف قبيلې ته هدايت عطا کړې ❁ هند بنتِ عتبه هُغه زنانه ده کومې چې د خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خوږ ترهٔ کاکا جان حضرت امير حمزه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ زړهٔ راويستے وو او په غاښونو کښې يې چقولے وو، د فتح مکې پهٔ موقع باندې دې نقاب وکړو او بارګاهِ رسالت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته حاضره شوه، کلمه يې ووئيله او اِسلام يې قبول کړو، بيا يې د مخ نه نقاب لرې کړو او اوئې وئيل: زهٔ هند بنتِ عتبه يعني هُغه زنانه يم، کومې چې ستاسو د ترهٔ پهٔ زړهٔ په غاښونو چقولے وو- پهٔ دې باندې نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هيڅ هم اونهٔ فرمائيل، د ذرې برابر د غصې يا د نفرت اِظهار يې اونهٔ کړو، د داسې ځانګړو اخلاقو، د عفو او د کرم دا مبارکه ادا چې يې وليدله نو هند بنتِ عتبه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہا عرض وکړو: يا رسولَ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! د دې نه مخکښې ستاسو نه زيات زما د چا نه نفرت نهٔ وو، اوس پهٔ ټوله زمکه باندې ستاسو نه زيات ما ته څوک محبوب نشته - [3]

---

1... بخاری، کتاب بدء الخلق، باب اذا قال احدکم آمين...الخ، صفحہ:828، حديث:3231 خلاصةً۔
2... ترمذی، ابواب المناقب...الخ ، باب مناقب فی ثقيف...الخ، صفحہ:882، حديث:3944۔
3... بخاری، کتاب مناقب الانصار، باب ذکر ہند بنت عتبہ...الخ، صفحہ:963، حديث:3825۔

سو بار ترا دیکھ کر عفو اور تَرَحُّم | ہر باغی و سرکش کا سر آخر کو جُھکا ہے

اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُاللّٰہِعَلَیۡه ليکلي دي:

تم کرم سے مشتری ہر عیب کے | جنسِ نامقبول ہر بازار ہم

اپنی رحمت کی طرف دیکھیں حُضُور | جانتے ہیں جیسے ہیں بدکار ہم (1)

**وضاحت:** اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُاللّٰہِعَلَیۡه عرض کوي: يا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! هغه څوک چا ته چې پهٔ دُنيا کښې کتو ته هم څوک نهٔ تياريږي، تاسو پهٔ هغوئي باندې هم کرم کوئ، هغوئي هم د خپلې کرم پهٔ جولۍ کښې پټوئ، پهٔ خپل رحمت سره يـې قبلوئ، دلته زمونږ حال دا دے چې مونږ ګنده هم يو، مونږ بے کاره هم يو، پهٔ يو بازار کښې هم زمونږه اخستو والا څوک نشته، تاسو د ګنهګارانو قبلوونکي يئ او مونږ د ټولو نه لوئي ګنهګاران---!! يا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! د خپل رحمت طرف ته وګورئ او مونږه ګنهګاران خپله د کرم جولۍ کښې پټ کړئ!

صَلُّوا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## (3): نُوراني مخ او مقدسي زُلفې

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د وَالضُّحٰی او د وَالَّيل دريمه معنیٰ ډېره ښکلې او ايمان تازه کوونکې ده، علمائے کرام فرمائي: پهٔ دې ځائے کښې د ضُّحٰی (يعنې د څاښت د وخت) نه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ښکلے ښکلے، روښانه روښانه، پړقيدونکے مخ مبارک مُراد دے او د لَّيل نه د نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ښکلو ښکلو زلفو طرف ته اِشاره ده۔ (2) مطلب به دا جوړيږي چې اے محبوبه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! زمونږ دې ستاسو پهٔ نُوراني مخ باندې قَسم وي! ستاسو پهٔ ښکلو ښکلو زلفو دې قَسم وي! ستاسو رَبّ نهٔ خو تاسو پريښودې يئ او نهٔ ستاسو نه ناراضه شوے دے۔

---

1... حدائق بخشش، صفحه:82-83 ملتقطًا۔
2...تفسير کبير ، پاره:30، سورة الضحى، زير آيت:1، جلد:11، صفحه:191۔

ہے کلامِ اِلٰہی میں شمس و ضحیٰ تیرے چہرۂ نُور فزا کی قسم
قسمِ شبِ تار میں راز یہ تھا کہ حبیب کی زلفِ دوتا کی قسم(1)

**وضاحت:** اے زما نُور والا آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! پهٔ قرآنِ مجيد کښې د وَالشَّمس او د وَالضُّحٰی پهٔ فرمائيلو الله پاک ستاسو د نوراني مخ قَسم کړے دے او د وَالَّيلِ اِذَا سَجٰی پهٔ فرمائيلو يې ستاسو د وَل وَل ښکلو زلفو قَسم کړے دے۔

او پهٔ يو بل ځائے کښې اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ ليکلي دي:

جیسے قرآن ہے وِرد اس گلِ محبوبی کا
یُوں ہی قرآں کا وظیفہ ہے وقارِ عارض(2)

**وضاحت:** د دې شعر وضاحت ډير ښکلے دے، لږ پهٔ خيال کښې راولئ چې مسجدِ نبوي شريف دے، زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تشريف فرما دے، مصحف مبارک يعني قرآنِ کريم يې مخې ته دے، رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تلاوت کوي، هغوئي لولي:

وَالضُّحٰى ۙ﴿۱﴾ وَالَّيْلِ اِذَا سَجٰى ۙ﴿۲﴾

الله! الله! خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د قرآنِ کريم تلاوت فرمائي او قرآنِ کريم څهٔ وائي: اے محبوبه! ستاسو پهٔ روښانه مخ باندې مې دې قَسم وي! ستاسو پهٔ مبارکو زلفو مې دې قَسم وي!

دا صرف د يو تصور خبره ده ځنګه چې اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي: چې لکه ځنګه به چې زمونږه خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سحر او ماښام، شپه او ورځ د قرآنِ کريم تِلاوت فرمائيلو، هم داسې د نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مبارک رخسار ذِکر کول د قرآنِ کريم وظيفه ده۔

---

1... حدائق بخشش، صفحه:80۔
2... حدائق بخشش، صفحه:71۔

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** هسې خو زمونږ خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سراسر معجزه ده، البته دلته د نوراني مخ او د مبارکو زلفو ذِکر شوے دے نو ځکه راځئ چې د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نوراني مخ څهٔ ذِکرِ خير واورو، د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د زلفو مبارکو ذِکرِ خير به اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! پهٔ راتلونکي جُمعه د اوريدو سعادت حاصلوو۔

## نُوراني مخ يــې ښنګه وو---؟

د خوږ آقا، د نُور والا مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مخ مبارک ډير ښکلے وو ❁ د هغوئي تندے مبارک فراخه ، پړقيدونکے او روښانه وو ❁ د نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ورروزې مبارکې د کمان پهٔ شان راتاؤ، اوږدې او نرۍ وې ❁ د دواړو ورروزو مبارکو ترمينځه يــې يو رَګ وو، کوم چې به د جلال پهٔ وخت راوچتيدو [1] ❁ سترګې مبارکې يــې ډيرې تورې وې، سپينه حصه يــې ډيره سپينه وه ❁ چرته چې باڼه د يو بل سره ميلاؤيږي، هلته د سور رنګ کرښې وې ❁ سترګې مبارکې يــې قدرتي تورې وې، چا چې به ليدلې نو هغهٔ ته به داسې ښکاره کيدله چې لکه اوس اوس يــې رانجهٔ لګولي دي [2] ❁ باڼهٔ مبارک يــې ښکلي او اوږدهٔ وو [3] ❁ پوزه مبارکه يــې د اوږد والي طرف ته مائله او نرۍ وه، د مينځ والا حصه يــې لږه شان اوچته وه، پهٔ هغې باندې به هر وخت نُور راخور وو [4] ❁ مخ مبارک يــې سپين [5] او پړقيدونکے وو [6] ❁ شونډې مبارکې يــې نرۍ، نرمې او نازکې

---

1... شمائل ترمذی، باب ما جاء فی خلق رسول اللہ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم ، صفحہ:13، حدیث:8۔

2... ترمذی، ابواب المناقب...الخ، باب فی صفۃ النبی صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم، صفحہ:833، حدیث:3654-3655 ملتقطًا۔

3... شمائل ترمذی، باب ما جاء فی خلق رسول اللہ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم ، صفحہ:11، حدیث:7۔

4... شمائل ترمذی، باب ما جاء فی خلق رسول اللہ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم ، صفحہ:13، حدیث:8۔

5 ... سبل الہدیٰ والرشاد، الباب السابع فی صفۃ انفہ الشریف و خدیہ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم ، جلد:2، صفحہ:29۔

6 ... العقد الفرید، اخبار المغنین، المسدود وزنین ودیس، جلد:7، صفحہ:45۔

او سرې شان وې [1] ❁ غاښونه مبارک يې ډير سپين او پړقيدونکي وو، په دې کښې تر مناسب حده پورې فاصله وه، چې کله به رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خبرې کولې نو داسې به ښکاريدو لکه د غاښونو مبارکو نه چې نُور خځيږي [2] ❁ ګېره مبارکه يې ګڼه وه، پهٔ اوږد والې کښې به د يو موټې برابر وه او پهٔ پلن والي کښې به يې سينه ډکه ساتله [3]

❁ غرض دا چې د مخ مبارک، د هغه هر اندام، هره يوه حصه يې ډيره ښکلې وه، صحابهٔ کرامو عَلَيهِمُ الرِّضوَان به بعضې وخت د مخ مبارک د حُسن بيانولو د پاره هغې ته وَرَقَةُ مُصحَف (د قرآنِ کريم ورق) وئيلو [4] يعنې د نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مخ مبارک پهٔ خپله صفايۍ، حُسن او ښکلا او پهٔ ځليدو کښې د قرآنِ کريم د اَوراقو پهٔ شان وو ❁ حضرت ابو هريره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمائي: ما د رسولِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه زيات ښکلے څوک هم نهٔ دے ليدلے، د هغوئي مخ مبارک دومره نُوراني وو چې لکه چې پهٔ هَغه نُوراني مخ کښې به نمر ځليدلو۔ [5]

الله! الله! د هَغه نوراني مخ تعريف به تر کوم حده پورې بيانوې ❁ الله پاک هَغه نوراني مخ هم معجزه جوړه کړې وه ❁ د هغوئي نوراني مخ د هغوئي د نبوت د ټولو نه لوئي دليل وو۔ حضرت عبد الله بن رواحه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ صحابئ رسول دے، او د دربارِ نبوت پهٔ نعت خوانانو شاعرانو کښې دے، هغوئي فرمائي:

لَو لَمْ يَكُنْ فِيهِ اٰيَاتٌ مُبَيِّنَةٌ | كَانَتْ بَدَاهَتُهُ تُنْبِيكَ عَنْ خَبْرِهٖ

يعنې که حُضُور پرنُور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم څهٔ معجزه هم نهٔ ښودله نو بيا هم پهٔ نبي کيدو باندې د هغوئي د حُسن نظاره هم ډير لوئي دليل وو۔ [6]

---

1 ... سبل الهدیٰ والرشاد، الباب الثامن فی صفة فمه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم ولسانه، جلد:2، صفحه:33۔
2... شمائل ترمذی، باب ما جاء فی خلق رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم ، صفحه:15، حديث:17۔
3 ... الثفا، القسم الاول، الباب الثانی فی تکميل الله تعالی له المحاسن...الخ، جز:1، صفحه:54۔
4... بخاری، کتاب الاذان، باب اہل العلم والفضل احق بالامامة، صفحه:229، حديث:680۔
5 ... ترمذی، ابواب المناقب...الخ، باب صفة النبی صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَ آلہ وَ سَلَّم، صفحه:833، حديث:3657۔
6... تفسير روح المعانی ، پاره 18 ،سورهٔ نور ، تحت الآية :35 ، جزء:18 ، صفحه :495۔

## دا د الله پاک رښتونے نبي دے

اِمام اَبُو نُعَیم رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ پهٔ خپل کتاب دَلَائِلُ النُّبُوَّہ کښې روايت ذِکر کړے دے چې زمونږه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د بے مثله او بے مثاله ماشومتوب زمانه وه، عمر مبارک يې 2 کاله وو، نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د حضرت حليمه سعديه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہا سره تشريف فرما وو، يوه ورځ حضرت حليمه سعديه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہا رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ځان سره کړے وو او مکے مکرمې ته روانه وه، پهٔ لاره کښې ورسره د حبشې څهٔ خلق ميلاؤ شو، د هغوئي نظر چې کله د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ نُوراني مخ باندې پريوتو نو بس ورته پهٔ کتو شو۔

اُن کے جلوؤں میں ہیں وہ دلچسپیاں | جو وہاں پہنچا وہیں کا ہو گیا (1)

راوي فرمائي چې هٰغه د حبشې خلق پهٔ يو ساه د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ديدار په خوندونه کښې ورک وو، اخر يې چغه کړه چې : هٰذَا وَاللّٰهِ نَبِيٌّ پهٔ خُدائے مو دې قَسم وي چې دا د الله پاک نبي دے۔ (2)

سَر سے پا تک ہر ادا ہے لاجواب | خوبرُویوں میں نہیں تیرا جواب
حُسن ہے بےمثل صُورت لاجواب | میں فِدا تم آپ ہو اپنا جواب (3)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ايمان يې پهٔ زړهٔ کښې کور وکړو

حضرت ابو رافع رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ پهٔ مکه مکرمه کښې اوسيدو، يو ځل د قريش کافرانو هغوئي خپل قاصِد جوړ کړو او بارګاهِ رسالت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته يې وليږلو، فرمائي: چې کله زهٔ

---

1... ذوقِ نعت ، صفحه:35۔
2... دلائل النبوة لابی نعیم، الفصل الحادی عشر فی ذکر نشوه و تصرف ، صفحه: 91 ، رقم:97 ملتقطاً۔
3 ...ذوقِ نعت ، صفحه:88۔

د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ خِدمت کښې حاضر شوم، بس چې څنګه مې پهٔ مبارک مخ باندې نظر پرېوتو نو اِسلام زما زړهٔ ته کوز شو۔ (1)

جس سے تاریک دل جگمگانے لگے | اس چمک والی رنگت پہ لاکھوں سلام (2)

حضرت ابو رُمثه تميمي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د خپل ځوي سره حاضر شو، د خلقو نه يې پوښتنه وکړه: رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چرته تشريف فرما دے؟ چې خلقو ورته ووئيل نو فرمائي: ما چې څنګه د دواړو جهانو د سرکار، مکي مدني سردار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مخ مبارک وليدو نو زما د خُلې نه بے اختياره ووتل: هَذَانَبِيُّ اللهِ دا خو د الله پاک نبي دے۔ (3)

دیکھنے والے کہا کرتے ہیں: اللہ! اللہ! | یاد آتا ہے خُدا دیکھ کے صُورت تیری (4)

## ازلي کافرانو حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هډو اونه ليدلو

آؤ! ابو لـهب، ابو جهل وغيره ازلي کافِران کوم چې ضديان وو، تکبر کوونکي وو، د کومو پهٔ زړونو کښې چې بغض وو، دښمني وه، پهٔ اصل کښې دغه بد بختو رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هډو اونهٔ ليدلو، د هغوئي پهٔ زړونو باندې تور والے دومره وو چې د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پرقيدونکے د نبوت نُور يې اونهٔ ليدلو، الله پاک فرمائي:

| وَ تَرٰىهُمْ یَنْظُرُوْنَ اِلَیْكَ وَ هُمْ لَا یُبْصِرُوْنَ ﴿۱۹۸﴾ (پاره:9، سورۂ الاعراف:198) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او تاسو چې هغوئي ته وګورې (نو داسې به ښکاري) چې هغوئي تاسو ته ګوري حالانکې هغوئي هيڅ نهٔ ويني۔ |
|---|---|

پهٔ تفسير صِراط الـجنان کښې دي: د دې آيت نه معلومه شوه چې صرف پهٔ ظاهري نظر حُضُور پرنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ليدل پهٔ حقيقي توګه فائده مند نهٔ دي بلکې د بصيرت پهٔ نظر ليدل يې فائده مند دي۔ (5)

---

1... ابو داؤد ، کتاب الجہاد ، باب فی الامام یستجن بہ فی العہود ، صفحہ: 441 ، حدیث:2758۔
2... حدائق بخشش، صفحہ:301۔
3... شمائلِ محمدیہ ، باب ما جاء فی شیب رسول اللہ ، صفحہ:25 ،رقم:43۔
4... ذوقِ نعت ، صفحہ :248۔
5... صراطُ الجنان، پارہ:9، سورۃ الاعراف، زیرِ آیت:198، جلد:3، صفحہ:501-502۔

آنکھ والا ترے جوبن کا تماشا دیکھے | دِیدۂِ کور کو کیا آئے نظر کیا دیکھے؟

اے کاش چې چرته يوه ورځ زمونږه هم بخت رابيدار شي، پهٔ بيدارۍ کښې يا پهٔ خوب کښې مو د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ښکلي مخ زيارت نصيب شي نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! دُنيا او اخرت به مو ښهٔ شي- الله پاک دې د ايمان او عافيت سره مونږ ته د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د زيارت سعادت راعطا کړي- اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم -

جلوۂ یار اِدھر بھی کوئی پھیرا تیرا | حسرتیں آٹھ پہر تکتی ہیں رستہ تیرا (1)

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! نن مونږه د سورۀ والضُّحٰی د وړومبي او دويم آيت د يو څو آيتونو د تفسيري معنو د اوريدو سعادت حاصل کړے دے د راتلونکې جُمعې پهٔ ورځ به اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! د سورۀ والضُّحٰی د دويم آيت مبارک: وَالَّيْلِ اِذَا سَجٰى ۙ﴿۲﴾ پهٔ ضِمن کښې د نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مبارکو زلفو د فضيلتونو او برکتونو د اوريدو سعادت حاصلوو- الله پاک دې مونږ ته د اِخلاص سره، پهٔ عشق او محبت کښې د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ذِکر د اوريدو توفيق راعطا کړي- اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## مَدَني قاعِده (Madani Qaida) موبائل ايپلي کيشن

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د قرآنِ کريم فيضان عام کولو د پاره د دعوتِ اسلامي ***I.T*** ډيپارټمنټ يو موبائل ايپلي کيشن هم جاري کړے دے، د کوم نوم چې مَدَني قاعِده ***(Madani Qaida)*** دے- پهٔ دې ايپلي کيشن کښې مکمله مَدَني قاعِده او د دې آډيو ***(Audio)*** شامله کړے شوې ده يعني پهٔ دې ايپلي کيشن کښې چې تاسو د مَدَني قاعِدې پهٔ کوم حرف يا کوم لفظ باندې کلک ***(Click)*** کوئ، پهٔ آډيو ***(Audio)*** کښې به د هغې تَلَفُّظ چليږي، داسې د دې ايپلي کيشن پهٔ مرستې سره پهٔ اسانۍ سره مَدَني قاعِده لوستل،

---

1... ذوقِ نعت، صفحه:23-

د دې مشق (*Practice*) کول او صحيح مخارج او ضروري تجويد زده کيدے شي- دا ايپلي کيشن پهٔ خپل سمارټ فون کښې انسټال کړئ، پخپله ترې هم فائده واخلئ او نورو ته هم د دې ترغيب ورکړئ-

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

راځئ چې د بيان پهٔ اخره کښې يوه شرعي مسئله زده کړو:

## صحيح څهٔ دي؟

(د صحيح شرعي مسئلې يا پهٔ خلقو کښې د پرتې غلط فهمۍ پهٔ ګوته کول)

**مسئله:** آيا د ربيع الاول پهٔ اُمبارکۍ ورکولو جنَّت واجب کيږي؟

**وضاحت:** د ربيع الاول شريف پهٔ راتګ خوشحالي کول او دا ډير ډير بيانول ډير ښهٔ عمل دے چې پهٔ دې مبارکه مياشت کښې الله پاک نبي آخر الزمان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دې دُنيا ته راوليږلو او پهٔ مؤمِنانو باندې يې اِحسان وکړو، د نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دُنيا ته تشريف راوړل يقيناً چې د مسلمانانو د پاره ډير لوئي نعمت دے او د نعمت د ډير ډير بيانولو پهٔ باره کښې الله پاک پهٔ قرآنِ کريم کښې اِرشاد فرمائي:

وَ اَمَّا بِنِعْمَةِ رَبِّكَ فَحَدِّثْ ﴿۱۱﴾ (پاره:30، سورهٔ والضحیٰ:11)

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او د خپل رَبّ نعمت ډير ډير بيانوه-

او چا چې د تيولو نه وړومبے چا ته د ربيع الاوّل اُمبارکي ورکړه، پهٔ هغهٔ باندې به جنَّت واجِب شي- نو د دې هيڅ روايت نشته، بلکې داسې خبرې عام طور د ځانه جوړې کړے شوې خبرې وي او د ځانه د جوړو کړے شوو خبرو قصداً پهٔ خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پورې تړل حرام دي، پهٔ حديث مبارک کښې دي: مَنْ كَذَبَ عَلَيَّ مُتَعَمِّدًا فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهٗ مِنَ النَّارِ يعني چا چې پهٔ ما پورې قصداً عمداً دروغ وتړل، هغه دې خپل

ځائے پهٔ دوزخ کښې جوړ کړي-[1]

او بغير د تحقيق او تصديق نه هره يوه اوريدلے شوې خبره مخکښې خورول نهٔ دي ښکار، پهٔ حديثِ پاک کښې دي: كَفٰى بِالْمَرْءِ كَذِبًا اَنْ يُّحَدِّثَ بِكُلِّ مَا سَمِعَ يعنې د اِنسان د دروغژن کيدو د پاره دا کافي ده چې هره اوريدلے شوې خبره بيان کړي-[2] ځکه د داسې روايتونو والا ميسجونو او پوسټونو شيئر کولو نه بچ کيدل ډير ضروري دي-[3]

الله پاک دې مونږ ته د صحيح اِسلامي احکامو د زده کولو او پهٔ هغې باندې د عمل کولو توفيق راعطا کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم -

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د اَسمَاءُ الـحُسنیٰ برکتونه (وظيفه)

### يَا حَفِيظُ

څوک چې روزانه 16 کرته يَا حَفِيظُ لولي هغه به هر قِسمه بهادر اوسي-[4] اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم!

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

1... بخارى، كتاب العلم، باب اثم من كذب على النبى، صفحہ:103، حديث:110۔
2... مسلم ، المقدمۃ، باب النہى عن الحديث بكل ما سمع، صفحہ:12، حديث:5۔
3... دَارُ الافْتَاء اَہْلسُنَّت ، غير مطبوعہ، فتاوى نمبر:Pin-4893 ۔
4...مدنى پَنج سوره، صفحہ:251۔